مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

لیکوال: هانس کریستین اندرسن
ژباړن: آصف بهاند

۲۰۱۸/۰۳/۲۳

# الوتونکی صندوق

## (Den flyvende kuffert)

## H.C. Andersen

### دویمه برخه



هلک وویل:
«زه به داسې کیسه تاسو ته ووایم، چې ستاسو ټولو خوښه شي؛ نو غوږ شئ!»
بیا هلک خپله کیسه داسې پیل کړه:
«و، نه و کلونه پخوا د ګوګړو یو کوټی و چې ډېر مغروره او ځانغوښتونکی و. ګوګړ په خپلو پلرونو او نیکونو باندې ویاړ کاوه او دعوا یې کوله چې د ده پلار د ځنګله د یو ستر صنوبر څخه و. د ګوګړو کوټی به تل د پخلنځي په تاخچه کې د یوه بل اور لګونکي په څنګ کې له یوه زاړه دیګي سره ایښې وه. د ګوګړو کوټی به ویل:
موږ په یوه شنه ځنګله کې وو او په خوښۍ او ښه ښه مو ژوند کاوه. هره ورځ به مو چاى، د الماسو په څیر له ړڼو څاڅکو نه ـ چې انسانان پرخه ورته وایي ـ برابراوه او څکه به مو او لمر به خپلې زرینې وړانګې پر موږ ځلولې، الوتونکو به تر ټولو ښکلې سندرې راته غږولې، موږ به غوږ ورته نیوه او په ریښتیا چې ډېر خوشاله وو. موږ دومره شتمن وو، چې تل به مو غوره او ښکلې جامې اغوستلې او هیڅکله به د نورو ونو په څیر لغړې نه پاتې کیدلو. زموږ به ان په ژمي کې هم شنې جامې په تن وې؛ خو له بده شامته چې یوه ورځ لرګی ماتونکی موږ پسې راغی او زموږ کورنۍ یې له منځه یوړله او موږه یې سره جلا کړو.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولئ

هغه ونه چې زما پلار و، تنه یې د یوې لویې کښتۍ د شاه تیر په ډول وکارول شوه او اوس دا کښتۍ، له نړۍ څخه د راتاویدو په سفر بوخته ده. زموږ د کورنۍ نورو څانګو ته هم درنې دندې ور له غاړې شوې دي، خو زه بد مرغه ګوګړ شوم او اوس باید خلکو ته رڼا او تودوخه رامنځ ته کړم. او همداسې چې مو واوریدل، زه له دومره لوی او لوړ اصل او نسب سره، سره باید د پخلنځي په دې څنډه کې ژوند وکړم.
نا څاپه دیګې هم خوله پرانسته، په خبرو راغی او وې ویل چې زما برخلیک، ستاسو له برخلیک سره ډیر توپیر لري. له هغې ورځې چې زه زیږیدلی یم، کارول مې پیل شوي دي. څو، څو ځلې د پخلي له پاره کارول شوی یم، زه د دې کورنۍ د غړو له پاره ډیر مهم یمه. زما تر ټولو ښه او لویه تفریح دا ده چې د کار له خلاصیدو نه وروسته بیرته پخلنځي ته راشم او له دوستانو سره مې خبرې وکړم.
له بده شامته چې زموږ خبرې، هماغه زړې او بیخونده تکراري خبرې دي، ځکه چې موږ په دې څلورو دیوالونو کې بندیان یو، د پخلنځي له وره نه د باندې نه وزو، ځکه د ویلو له پاره کومه نوې خبره نه لرو. کله، کله د اوبو سطل له پخلنځي نه د باندې وزي او د سودا ټوکرۍ تل تشه بازار ته ځي او ډکه بیرته راځي، خو زما له نظره، هغه خبرونه چې ټوکرۍ د خلکو او حکومت په باب راوړي، چندان د داد وړ نه دي، هغه هم په دې دلیل چې ټوکرۍ د یوه زاړه، لویدلي او مات شوي دیګ په باب نه غږیږي، ځکه یې خبرې چندان د حساب وړ نه دي.
د ګوګړ په څنګ کې بل اور لګونکي وویل:
«ته ډیر غږیږې!»
بیا یې خپله خوله خلاصه کړه او پرق یې وهل، شنه ښکلي لمبه یې راویستله او د خپلو خبرو په ترڅ کې یې وویل:
«پریږدئ چې نن شپه لږ دمه شو!»
ګوګړ وویل:
«ښه به دا وي چې د ټولو نظر وغواړو چې د چا کیسه ډیره جالبه ده.»
نا څاپه ګلدان د دوی په خبرو کې ورولوید او وې ویل:
«نه، داسې نه شي کیدای!
تاسو یوازې خپل صفتونه کوئ او بل څوک نه پریږدئ چې وغږیږي، ښه به دا وي چې هر څوک په خپل وار سره وغږیږي او خپلې تیرې کیسې بیا ووایي، تر څو مالومه شي چې څوک تر ټولو مهم او ښه دی.»
بیا ګلدان خبره داسې وغځوله:
«ما د بالتیک سمندر پر څنډه ژوند کاوه، زموږ د اوسیدو ځای د ډنمارک د غنموله کروندو نه دومره لرې نه و.»
په همدې شیبه کې ټولو قابونو په یوه غږ سره وویل:
«دا څومره ښه پیل دی! دا هماغه کیسې دي چې زموږ غوښیږي.»
ګلدان خبره داسې پسې وغځوله:
«زموږ کورنۍ د سمندر په هغو ښکلو او آرامه سیمو کې، ښه ژوند درلود، موږ په سوله او صمیمت سره خپل ژوند کاوه، هلته به خلکو د کور د اړتیا وړ شیان جوړول، د کور غولۍ او پردې به هرو څوارلسو ورځو کې یو ځل پاکیدلې.»
ناڅاپه جارو غږ کړ او وې ویل:
«څه خوږه او جالبه کیسه ده! هر څه وللي دی او له هغوی نه د پاکۍ بوی راځي.»
په همدې شیبه کې د اوبو سطل له خوښۍ نه وښوریده، را وړاندې شو، لږې اوبه یې د پخلنځي پر غولي وشیندلې او وې ویل:
«سمه ده چې ستاسو ژوند ډیر خوندور و.»
ګلدان خپله کیسه پسې ویله، تر څو چې پای ته ورسیده او د کیسې پای یې هم د کیسې د پیل په څیر په زړه پورې او د اوریدلو وړ و.
قابونه له خوشالۍ نه سره وښوریدل، جارو او شنیلي ګلدان ته مزاحمت کاوه. نن چې دوی ته مزاحمت کوي، ښایي سبا به موږ ته هم مزاحمت پیښ کړي.
یو بل چا هم په ګډیدلو سره خپل غږ وایسته او وې ویل:
«زموږ وار به کله ورسیږي.»
د زړې چوکۍ پوښ هم چې په یوه څنډه کې ناست و او نورو ته یې کتل، تر شونډو لاندې یې ویل:
«دا ځینې څه بلا اخلاق لري.»
آ بل اور لګونکي له خانسره وویل:
«آیا د ګلانو تاج به زما په برخه شي او زما پر سر به کیښودل شي؟»
د ګوګړو د کوټۍ له نظره دا یو ساده او احمقانه فکر و چې آ بل اور لګونکي داسې هیله درلوده.
د سودا ټوکرۍ د کرم له پاڼو نه یو تاج جوړ کړ او د ګلدان پر سر یې کیښود، دا نور لږ خوابدي غوندي شول، خو وروسته یې له ځان سره فکر وکړ چې په بله لوبه کې به خپله ګټونکي وي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالې د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

کاشوغو په شور و ځوږ سره وویل:
«اوس باید ولاړې شو او وګډېږو!»
او دومره وګډېدې او سره وې خندل چې په نسونو کې یې درد پیدا شو او د زړې چوکۍ پوښ هم له خندا نه دوه پلې شو.
بل اورلګونکي وویل:
«اوس د سماوار د سندرو ویلو وخت دی.»
خو د سماوار ساړه شوي وو او نه یې شوای کولای چې سندرې ووایي.
د کړکۍ خوا ته یې د زاڼې یوه غټه بڼکه ایښې وه، دا د چوپړې نجلۍ قلم و، چې له لیکلو وروسته یې له قیمتي کاڼو سره یو ځای کېښوده. دا قلم ډوله بڼکه ډېره مغروره وه او ځان یې له ټولو نه ښه او لوړ ګاڼه.
بڼکې وویل:
«که سمار نه غواړي سندرې ووایي، ښه به دا وي چې له جشن څخه پښه وباسي.»
په همدې شیبه کې چوپړ کونکې نجلۍ پخلنځي ته راننوته او د هغې په راتګ سره ټول غلي شول. نجلۍ ګوګړ را واخیست او د اور بلولو په پار یې ولګاوه.
ګوګړ لمبه وکړه او له ځان سره یې سوچ وکړ چې ټول به اوس د ده صفت وکړي، خو مخکې له دې چې خپل سوچ کول پایته ورسوي، په ایرو بدل شو، د هغه ټول غرور او دعواوې په لوګو بدلې او هوا کې ورکې شوې.»
بادشاه او ملکې له کیسي نه ډېر خوند واخیست، د دوکاندار زوی یې هم ډېر خوښ شو او ژر یې د هلک او شهزادګۍ د واده پریکړه وکړه او د واده ورځ یې ورته وټاکله.
د هغوی د واده په شپه ټول ښار روښانه کړی شوی و، خلکو په واټونو کې ګډا او خوشالي کوله. د دوکاندار زوی د اور لوبي توکي برابر کړل، په خپل صندوق کې یې کېښودل، له صندوق سره والوت او د ښار د پاسه یې رنګه فشنګونه ولګول او په دې ډول یې د ښار ټول آسمان رڼا کړ. خلکو په حیرانتیا سره پاس کتل او د دې منظرې له لیدلو څخه یې خوند اخیست او له خوشالۍ نه پورته، پورته الوتل.



هلک له صندوق سره بیرته راښکته شو، صندوق یې په ځنګله کې پرېښود او خپله ښار ته راغی. ښاریان ورباندې راټول شول او داسې برېښېده چې خلک په دې خوشاله دي چې د دوی بادشاه داسې هوښیار زوم لري.
بله ورځ د دوکاندار زوی ځنګله ته لاړ چې خپل بکس سره بیرته د شهزادګۍ ماڼۍ ته راستون شي، خو وې نه شوای کولای خپل بکس پیدا کړي. وروسته له ډېر فکر نه پوه شو چې د بکس په یوه څنډه کې یوه نا چاودلې پټاقۍ نښتې وه او د هغې په چاودیدو سره بکس اور اخیستی او په ایرو بدل شوی دی. هلک له غمه ډک زړه په خپل مخه ولاړ.
شهزادګۍ تل د هغه راتګ ته سترګې په لاره وه، خو له ډېر انتظار سره، سره د هغه درک ونه لګید.

---


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

**څوک څه پوهيږي!**
ښايي شهزادګۍ تر اوسه هم سترګې په لاره وي، خو د دوکاندار زوی ښار په ښار ګرځي او خلکو ته خوږې او په زړه پورې کيسې کوي، خو يوه کيسه يې هم د ګوګړو د کوټۍ د کيسې په اندازه خوږه او په زړه پورې نه ده.





پای

منبع:

H.C.Andersen Eventyr, 2, 7 – 19 s, 1994, Odnsa, Denmark


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ